# دازمینت حکمتونه



18-November-2021

هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د ازميبنت حکمتونه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ معنیٰ ده ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو. نِيَّت د زړه ارادے ته وائي چې کله هُم جُمات ته د داخليدو سعادت درنصيب شي نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو . اِنْ شَآءَاللّٰهُ الکريم د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضرت عَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې يوه ورځ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل کور مبارك نه بهَر ته تشريف راوړلو او يو باغ طرف ته روان شولو، حضرت عَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوليدلو نو شا ته شا ته پسے روان شو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باغ ته داخل شولو، قبلے طرف ته ئې مخ کړو او سر ئې په سجده کښې

کيښودلو، عَبْدُالرَّحْمٰن بن عَوْف رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لرې اودريدلو او حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ئې کتل، فرمائي چې خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډيره اوګږده سجده اوکړه تردې چې زه اُويريدم، هسې نه چرته د سجدے په حالت کښې ترينه اللّٰه پاك روح مبارك قبضه کړے وي، د دې خيال په راتلو زه ورمخکښې شوم، زما د قدمونو آواز ئې چې واوريدلو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سر مبارك را اوچت کړلو: او تپوس ئې اوکړو: څوك ئې؟ ما عرض اوکړو: حُضُور! عَبْدُالرَّحْمٰن يم. اوئې فرمائيل: څه کار دے؟ ما عرض اوکړو: يَـا رسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! تاسو دومره اوګږده سجده اوکړه چې زه اُويريدم، هسې نه چې چرته اللّٰه پاك د سجدے په حالت کښې ستاسو روح مبارك نه وي قبضه کړے.

د خپل عاشق د محبت نه ډکه خبره ئې چې واوريدله نو آخري نبـي مُحَمَّدِ عربـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوګږدے سجدے حکمت بيان کړو، اوئې فرمائيل: ما ته جبريل عَلَیْہِ السَّلَام حاضر شو، عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اللّٰه پاك فرمائي: څوك چې په تاسو دُرُودِ پاك اولولي، زه به په هغه رحمتونه نازل کړم، څوك چې په تاسو سلام اوليږي، زه به په هغه باندې سلامتيا نازله کړم. د دې نِعمَت شُکر ادا کولو د پاره ما دومره اوګږده سجده اوکړه.[1]

اَللّٰهُ اَکۡبَر! اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! ❁ دُرُودِ پاك څوك وائي؟ اُمَّتـي ❁ رحمت په چا نازليږي؟ په اُمَّتـي باندې ❁ سلام څوك ليږي؟ اُمَّتـي ❁ د اللّٰه پاك سلامتيا په چا نازليږي؟ په اُمَّتـي باندې ❁ او سجدهٔ شُکر څوك ادا کوي؟ د اُمَّت غم لرونکے، شفاعت کوونکے، د اُمَّت د بخښنې دُعا کوونکے، جنت ته رَسَوُونکے خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم...!

---

[1]...مسندِ اَحْمَد، جلد:1، صفحه:191، حديث:1664۔

سُبۡحٰنَ الله! اندازه اولګوئ! زمونږ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مینه کوي. اَللهُ! اَللهُ! که اُمَّت ګناه اوکړي نو آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپې په ژړا ژړا تیروي، که اُمَّت ته نِعمَت نصیب شي نو آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شُکر سجدے کوي. د اعلٰی حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه لیکي:

تم کو توغلاموں سے ہے کچھ ایسی محبت | ہے ترکِ ادب ! ورنہ کہیں ہم پہ فدا ہو [1]

**وضاحت:** یَـا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو د خپلو غلامانو سره دومره **محبت** کوئ، دا ادب نه دے ګني مونږ به وئیلے وے چې تاسو خو په خپلو غلامانو باندې فِدا کیږئ.

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

**مُحترمو اسلامي وروڼرو!** ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه **مخکښې** ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفۡضَلُ الۡعَمَلِ اَلنِّیَّةُ الصَّادِقَةُ " رښتینے نیت بهترین عبادت دے. **(2)**

**اے عاشقانِ رسول!** نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

❀ د عِلمِ دِین حاصلولو نِیَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❀ د علم

---

1 ...ذوق نعت، ص211۔

2 ...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ❁ د بيان په دوران کښې به د سُستۍ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

## ژوند ټول امتحان او ازميښت دے

په سيپارهٔ 17، سورهٔ انبياء، آيت: 35 کښې **اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ؕ وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۵﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: هر نفس به د مرګ خوند څکي او مونږه ستاسو ازميښت کوو په بدئ او خير سره، د امتحان په طور او زمونږ طرف ته به تاسو ضرور بيرته راځئ.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې آيت مبارکه کښې اوښودل شو چې په دې دُنيا کښې زمونږ ژوند مکمل امتحان او ازميښت دے. زمونږه به په دې دُنيا کښې مسلسل ازميښتونه کيږي، د هُم دې ازميښتونو نه تيريدلو تيريدلو کښې به آخر زمونږه مرګ راشي او د **اللّٰه** پاك په طرف به اُوکرځُو.

## ازميښت څه ته وائي؟

په دې آيت کښې لفظِ ''نَبْلُوْ'' استعمال شوے دے. مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه د دې لفظ معنٰی داسې بيان فرمائي: ازميښت او امتحان اخستلو ته اِبتِلا وائي، نو د دې معنٰی دا ده چې مونږه به ستاسو اِمتحان اخلو يا به په تاسو کښې کره او ردي ظاهروو.[1] د دې نه دا هم ظاهره شوه چې په اصل کښې د

1 ...تفسير نعيمی، پاره:2، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:156، جلد:2، صفحه:95۔

اِمتحان مقام دُنيا ده، دا بعضې خلق چې وائي **مولانا! ولے مو د قبر و آخرت نه يَروئ؟ "څه چې کيږي بيا به ګورو"** داسې ناپوهه خلقو له پوهيدل پکار دي چې د کتلو، سوچ کولو، ځان پوهه کولو او عمل کولو مقام دُنيا ده، دلته به کتل کيږي، قبر و آخرت د نتيجے راوتلو مقام دے، بيا نتيجه که ښه وي او که خرابه هغه به په هر صورت قبلوو. لِهٰذا د مرګ نه مخکښې د آخرت د پاره تياري کول پکار دي.

**غرض** دا چې ترڅو پورې مونږه په دُنيا کښې يُو، زمونږ ازميښت به کيږي، ګويا مونږه د امتحان په تيارئ کښې يُو، مونږ له اوس کتل او سوچ کول، ځان پوهه کول او عمل کول پکار دي. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته د دُنيا او آخرت ټولو امتحانونو کښې د کاميابئ توفيق را نصيب کړي. **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## "اللّٰه پاك ازميښت کوي" د دې مطلب...!!

دلته په دې خبره باندې ډير زيات غور و فِکر کول پکار دي چې **اللّٰه** پاك ته هر څه معلوم دي، **اللّٰه** پاك ته د امتحان اخستلو هيڅ حاجت نشته، البته په دې دُنيا کښې امتحان اخستے کيږي او د امتحانونو په ذريعه زمونږ کردار او قابليت ظاهريږي. مشهور مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: امتحان هميشه د معلوملو د پاره نه وي، د امتحان نه کله پخپله امتحان ورکوونکي ته دا ښودل منظور وي (چې هغه د کومې درجے انسان دے، او څومره قابل دے) او کله نورو ته (ښودل منظور وي چې اوګورئ! دا بنده د څومره اوچتې مرتبے والا دے، څنګه په سخت امتحان کښې کامياب شو). که بغير د امتحان نه انعامونه تقسيم کړے شي او چا ته لږ او چا ته زيات انعام ورکړے شي او څوك بالکل محرومه کړے شي نو يقيناً ټول به ګيله کوي، لِهٰذا په دې دُنيا کښې امتحان اخستے کيږي چې څوك په امتحان کښې په ښه طريقه پاس شي، هغه ته به هغه همره غټ انعام ورکولے کيږي. اوګورئ! حضرت اِمام

حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د جَنَّتـي ځلمو سردار دے، په دې باندې هيڅ اعتراض نه شي کيدے (چې هغوئي ته دومره اوچته مرتبه ولے ورکړے شوه) ځکه چې حضرت اِمام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په دُنيا کښې هم د صابرينو (يعنې صبر کوونکو) سردار دے.[1] معلومه شوه **اللّٰه** پاك د خپلو بندګانو امتحان اخستل د خپل علم د پاره نه کوي بلکه د انسان قابليت ښکاره کولو د پاره د هغوئي امتحان اخلي.

قُلزُمِ ہستی سے تُو اُبھرا ہے مانندِ حباب | اس زیاں خانے میں تیرا اِمتحاں ہے زندگی

**مطلب**: دا چې انسان د خاورې ګُوډاګے دے، د ده حَيثِيَّت د سمندر د پوښکئ په شان دے او دُنيا د نقصان کور دے، دلته مسلسل د انسان امتحان اخستلے کيږي او د دې امتحانونو په ذريعه انسان د پوښکئ نه سمندر جوړ کړے شي يعنې اوچت مقام ورته عطا کړے شي.

## د امتحان قسمونه او د کاميابئ طريقے

زمونږ په نزد عام طور مشکل، پريشاني، بيمارې، تنګ دستي او غريبئ وغيره ته ازميښت وئيلے کيږي خو په حقيقت کښې داسې نه ده، قرآنِ کريم که په غور اولوستلے شي نو معلومه شي چې د دُنيا په ژوند کښې د کاميابيدو د پاره چې په مونږه کوم ازميښتونه راځي، د هغې درې قسمونه دي: **(1) شرعي احکام (2) خوشحالئ او نعمتونه (3) مشکلات، مُصيبت او پريشانئ**

## (1) د شرعي احکامو په ذريعه د ازميښت اخستلو بيان

**شرعي احکام**: دا هم ازميښت دے ❁په مونږ باندې هره ورځ پينځه لمُونځونه فرض دي❁ د رَمَضانُ المُبارك روژے فرض دي ❁ که شرطونه پوره شي نو زکوٰة فرض کيږي

[1] ...تفسير نعيمى، پاره:2، سورۀ بقره، زيرِ آيت:155، جلد:2، صفحه:100 بتغير قليل۔

❁ که شرطونه پوره شي نو حج فرض کيږي ❁ د مور و پلار خدمت ❁ د خپلو خپلوانو سره نيك سلوك كول ❁ د شراب څښلو نه بچ كيدل ❁ د جُوارئ نه بچ كيدل ❁ د سُود ❁ رِشوَت وغيره نه بچ كيدل، غرض څومره چې شرعي احكام دي، د دې ټولو په ذريعه زمونږه امتحان اخستلے كيږي د پاره د دې چې څوك د **الله** پاك د احكامو پوره فرمانبرداري كوي او څوك د عقل او نفس و شيطان خبره مني او د **الله** پاك نافرماني كوي، څوك د مال و دولت په لالچ كښې راځي او **الله** پاك هيروي، او په خپلو ګناهونو خوشحاله اوسي، او د جنَّت په بدله كښې دوزخ اخلي؟ په سيپارۀ 29، **سورۀ مُلك**، آيت: 2 كښې ارشاد دے:

الَّذِیۡ خَلَقَ الۡمَوۡتَ وَ الۡحَیٰوۃَ لِیَبۡلُوَکُمۡ
(پارہ:29، سورۂ ملک:2)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: هغه [الله] چې مرګ او ژوند ئې پيدا كړے دے چې ستاسو ازميښت اوكړے شي.

دلته **الله** پاك د ژوند او مرګ پيدا كيدو حكمت بيان كړے دے چې ژوند او مرګ ئې د دې د پاره پيدا كړي دي چې ستاسو ازميښت اوشي، ستاسو امتحان اوشي. څه ازميښت به كيږي؟ څه امتحان به كيږي؟ فرمائي:

اَیُّکُمۡ اَحۡسَنُ عَمَلًا ؕ
(پارہ:29، سورۂ ملک:2)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: [چې] په تاسو كښې د چا عمل زيات ښه دے.

حضرت اِبنِ عُمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما نه روايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُورۀ مُلك تلاوت كولو، چې كله دې آيتِ كريمه ته را اورسيدلو نو اوئې فرمائيل: دا ازميښت به كيږي چې څوك د **الله** پاك حرام كړو څيزونو نه زيات بچ كيږي او څوك د **الله** پاك په احكامو باندې عمل كولو كښې زياته تادي كوونكے دے.[1]

---

1 …تفسیر قرطبی، پارہ:29، سورۂ ملک، زیرِ آیت:2، جلد:9، صفحہ:135۔

# د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د ازميښت واقعه

د 6 هجرئ واقعه ده، په دغه كال صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د عمرے په نِيَّت د خوږ آقا، مكي مدَني مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مَكّے مُكَرَّمے ته روان شو، په مَكَّهٔ مُكَرَّمه كښې هغه وخت د كافرانو حكومت وو، لِهٰذا صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د حُدَيبِيَه په مقام حصار شو، آخر كار كافرو سره مُعاهده اوشوه كومې ته چې **صُلح حُدَيبِيَه** وائي.

په دې موقع باندې د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان امتحان واخستے شو، د شريعت حكم دے چې د احرام تړلو په حالت كښې د زمكې د ځناورو ښكار كول او وژل حرام دي. صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د عُمرے نيت كړے وو، احرامونه ئې تړلي وو، په صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان كښې ډير داسې وو چې ښكار كول د هغوئي عام عادت وو، بعضې صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به د ښكار شوق لرلو، اوس په دې حالت كښې **الله** پاك د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ازميښت اوكړو، د ښكار ځناور، مرغۍ مثلاً هُوسۍ وغيره ډيرې زياتې د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د سورلو خوا ته نِزدې راغلې بلكه خيمو ته به دننه ننوتلې، په دغه وخت كښې دومره زيات ځناور راغلي وو، صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان فرمائي: چې د هغه ځناورو په لاسو ښكار كول [يعني په په تشو لاسو نيول] هم بالكل زمونږ په اختيار كښې وو.

اوس لږ غور اوكړئ! بنده چې د كوم كار شوق [او ضرورت هُم] لري يا هغه كار د هغه عادت وي او د هغه كار نه منع كړے شي او ورسره ورسره د هغه كار اسباب هُم ډير شي [يعني هغه كار كول آسان شي]، نو په داسې حالت كښې د هغې نه منع كيدل څومره ګران وي...!! زمونږ خلق د ډاكټر د منع كولو باوُجود برګر، پزّے، سيګريټ، چائے، كافي وغيره نه پريږدي خو قربان شم د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د اِطاعت او فرمانبردارئ او كامل اِيمان نه! چې د هغه ځناورو ښكار كول خو لا غټه خبره ده،

صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان هغه څناورو ته هډو کتل هُم نه او د **اللّٰه** پاك په دې امتحان کښې پوره پوره کامياب شو.[1]

دا دے امتحان! او ازمېښت...! د شرعي احکامو په ذريعه هم زمونږه ازمېښت کيږي، ❁يو طرف ته خوږ خوب دے، بل طرف ته د سحر لمُونځ دے، ازمېښت دے چې څوك خوب قربانوي او څوك د سحر لمُونځ نه محرومه پاتې کيږي ❁يو طرف ته کاروبار دے بل طرف ته فرض لمُونځونه دي ❁يو طرف ته کار دے، خواهشات دي، بل طرف ته د رَمَضان روژے دي ❁يو طرف ته دُنياوي عيش و عشرت دے، بل طرف ته حج دے❁يو طرف ته فيشن پرستي ده، بل طرف ته د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي، اوس ازمېښت دے، معلوميږي به چې څوك د **اللّٰه** پاك په احکامو عمل کوي، څوك د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت خپلوي او څوك د عارضي دُنيا په رنګينو کښې ورك خپل آخرت خرابوي.

صوفيائے کرام فرمائي: زمونږ په اندامونو، سترګو، ژبه، لاسونو، پوره وجود باندې، زمونږ په مال و دولت، غرض زمونږ په هر څيز باندې د شريعت کنټرول دے، څوك چې د شريعت حد ماتوي، د قيامت په ورځ به ورته درد ناك عذاب ورکولے کيږي.[2]

سرکارِ بَغداد، حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: اِمۡشِ تَحۡتَ ظِلِّ كِتَابِ اللّٰه وَ سُنَّةِ رَسُولِهٖ قَدۡ اَفۡلَحۡتَ د **اللّٰه** پاك کتاب (قرآنِ مجيد) او د سُنَّتِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سَوري کښې ژوند تير کړه...! کامياب به شې...[3]

---

1 ...تفسير نعيمی، پاره: 7، سورهٔ مائده، زيرِ آيت: 94، جلد: 7، صفحه: 70 71 خُلاصةً۔

2 ...تفسير نعيمی، پاره: 7، سورهٔ مائده، زيرِ آيت: 94، جلد: 7، صفحه: 77۔

3 ...فتح الرَّبَّانی، صفحه: 29۔

# د شرعي احکامو په ازميښت کښې د کاميابۍ طريقه

اے عاشِقانِ رسول! معلومه شوه په شرعي احکامو کښې هم زمونږه ازميښت کيږي او په دې امتحان کښې د کاميابۍ صرف يو صورت دے، هغه دا چې بنده پابندۍ سره په شرعي احکامو باندې عمل اوکړي.

**هميشه ياد ساتئ!** په دُنيا کښې د شرعي احکامو په ذريعه زمونږه امتحان اخستلے کيږي، دا امتحان به د ژوند آخرۍ ساه پورې جاري وي. کوم کس چې بالِغ دے او عقل ئې سلامت دے، هغه يو وخت هم د شريعت د حکم نه نه شي آزاديدے، که څه عُذر، مجبوري ئې وي، نو شريعت هغه ته رعايت ورکوي ❁ څوك چې په ولاړه د لمُونځ ادا کولو طاقت نه لري، هغه دِ په ناسته لمُونځ ادا کړي ❁ څوك چې په ناسته لمُونځ نه شي ادا کولے، هغه دِ ئې په ملاسته ادا کړي ❁ څوك چې حرکت نه شي کولے، هغه دِ ئې په اشاره ادا کړي، البته لمُونځ به ضرور ادا کوي ❁ څوك چې سخت بيمار دے، د روژو نيولو طاقت نه لري، هغه دِ اوس روژے نه نيسي خو وروسته دِ د هغې قضا راوړي. [يعني هغه روژے دِ بيا اونيسي]. غرض دا چې ترڅو پورې په مونږ کښې ساه ده او عقل مو سلامت دے نو د شرعي احکامو نه د آزاديدو هيڅ صُورت نشته. **الله** پاك فرمائي:

وَ اعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى یَاْتِیَكَ الْیَقِیْنُ۠ (۹۹)
(پاره:14، سورۀ حجر:99)

[مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِیمان: او د مرګ د ساعته پورې د خپل ربّ په عبادت کښې اوسه.

د اسلام د دويم خليفه، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ واقعه مشهوره ده، چې کله په هغوئي باندې قاتلانه حمله اوشوه نو د هغوئي نه ډيره زياته وينه بهيدلې وه، په هغوئي باندې بے هوشي راغله، چې کله په هوش کښې راغلو نو اوئې

فرمائيل: آيا خلقو لمُونځ ادا کړے دے؟ خلقو اُووئيل: آو ادا کړے ئې دے. اوئې فرمائيل: لَا اِسْلَامَ لِمَنْ تَرَکَ الصَّلَاۃَ يعنې څوك چې لمُونځ پرېږدي، هغه حقيقي مسلمان نه دے. بيا هغوئې اودس اوکړو او د سحر لمُونځ ئې ادا کړو.[1]

## په شرعي احکامو باندې د عمل کولو يوه فائده

شاه ولِيُّ الله مُحَدِّث دِ هلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **الله** پاك په انسان کښې دوه قوتونه پيدا کړي دي: (1):**قُوَّتِ بَهِيْمِيَّه** (يعنې د ځناورو صِفَت) (2) او **قُوَّتِ مَلَکِيَّه** (يعنې د فرښتو صِفَت) د انسان په بدن کښې دا دواړه قوتونه موجود کيدل يا پخپله د انسان وجُود د دې خبرې تقاضا کوي چې په انسان باندې شرعي احکام لازم کړے شي، **الله** پاك د انسان خالق دے، انسان پيژني، د انسان صلاحيت پيژني، د **الله** پاك په ورکړو شوو حکمونو باندې عمل کولو سره انسان فرښته صِفَت جوړيږي او د کومو کارونو نه چې **الله** پاك منع فرمائيلي ده، د هغه کارونو نه منع کيدلو باندې انسان د ځناورو والا کارونو نه بچ کيدے شي.[2]

معلومه شوه چې که مونږه د شريعت په احکامو باندې واقعي عمل کوونکي جوړ شو نو د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم مونږه په حقيقي معنو کښې انسانان جوړ شو، د ځناورو په شان وحشيانه انداز کوم چې نن صبا په مُعاشره کښې ډير زيات دے، د دې نه به خلاصے رانصيب شي. تاسو په دُنيا کښې اوګورئ! هغه مُعاشرے چرته چې اسلامي نِظام نشته، د اسلامي احکامو نافذ کيدل نشته، کوم خلق چې شرعي احکام هډو مني نه، يا ئې مني خو په هغې باندې عمل نه کوي، هلته ګمراهي، بد

1 ...فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد:1، صفحه:761۔

2 ...حجة الله البالغه، جلد:1، صفحه:42 خلاصةً۔

عادتونه، ناکاره طريقے عام دي، هلته د بےحيائۍ نه ډك جرمونه کيږي، په اخبارونو کښې روزانه دا خبرونه راځي چې په فلانکي ملك کښې د لسو کاله ماشومه د واده نه بغير مور جوړه شوه، په فلانکي ملك کښې د غلاګانو شمير دومره فيصده ته اورسيدو، په فلانکي ملك کښې د خود کُشۍ، قتل، ډاکے کولو شرح دومره فيصد ته اورسيدله. دا خبرونه مونږه اورو. دا ټول څه دي؟ د خپلو خواهشاتو خبره منل دي، دا اِنسان د انسانِيَّت د درجے نه غورزيدل دي او داسې ولے کيږی؟ په دې وجه چې په هغه مُعاشرو کښې د شرعي احکامو نافِذ کيدل نشته، دغه شان هغه مُعاشرے چرته چې شرعي احکام منل کيږي خو د علمِ دين نه د لرې والي په وجه خلق د دِين نه بيزاره ښکاري، نه په دِين او نه په شرعي احکامو باندې عمل کوي، هلته هم داسې واقعات پيښيږي، کله ماشومانې د خپل شهوت نشانه جوړې کړي او بيا ئې قتل کړي، کله د ناپوهۍ په وجه خپله وړوکي ماشومه لور په پريشر کُکر کښې واچوي او په اور ئې کيږدي. دا ټول خپل خواهشات او د ځناورو سلوك صرف په شرعي احکامو باندې د عمل نه کولو په وجه دے. که انسان په خپل ذات باندې پوره شرعي احکام نافِذ کړي نو دا د ځناورو عادت به ترينه ختم شي او انسان به فرښته صِفَت جوړ شي.

الله پاك دِ مونږ ټولو ته په حقيقي معنو کښې په شرعي احکامو باندې د عمل کولو توفيق را عطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2) د نعمتونه په ذريعه د ازميښت بيان

اے عاشِقانِ رسول! په دې دُنيا کښې چې مونږه د کومو امتحانونه نه تيريږو، د هغې دويم قسم مختلف نعمتونه دي. عام طور مصيبت، پريشانۍ، تنګدستۍ، غريبۍ، بيمارۍ او د خپلو خپلوانو مرګ وغيره ازميښت ګنړلے کيږي خو په قرآنِ کريم کښې

د غور کولو نه پته لګي چې ازميښت صرف په مصيبت او پريشانئ کښې نه دے، د نِعمَت نصيب کيدل هم يو ازميښت دے. **الله** پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَنَبۡلُوۡكُمۡ بِالشَّرِّ وَالۡخَيۡرِ فِتۡنَةً ؕ (پاره:17، سورهٔ انبيا:35) | [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالإيمان : او مونږه ستاسو ازميښت کوو په بدئ او خير سره د امتحان په طور. |

معلومه شوه انسان صرف په بدئ (مثلاً درد، غم او پريشانئ) نه ازمائيلے کيږي بلکه په نيکو (آرام، تندرستئ، نعمت او دولت) ورکولو هم د هغه ازميښت کيږي.

## د حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلام د حِکمت نه ډك فرمان

د **الله** پاك نبـي حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلام واقعه ډيره مشهوره ده، چې کله ملکه بلقيس د حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلام په خدمت کښې د حاضريدو د پاره د يمن نه راروانه شوه، د حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلام د دربار نه لرې لرې وه چې حضرت سُليمان عَلَيۡهِ السَّلام خپلو درباريانو ته اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اَيُّكُمۡ يَاۡتِيۡنِيۡ بِعَرۡشِهَا قَبۡلَ اَنۡ يَّاۡتُوۡنِيۡ مُسۡلِمِيۡنَ ﴿۳۸﴾ (پاره:19، سورهٔ نمل:38) | [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالإيمان : اے درباريانو! په تاسو کښې څوك دے چې هغه د هغې تخت زما خوا ته راوړي، مخکښې د هغې نه چې هغوئي زما خوا ته تابعدار حاضر شي. |

يو غټ طاقتور پيري اووئيل: جناب! زه به هغه تخت حاضر کړم او ستاسو د دربار د وخت ختميدو نه مخکښې به ئي راوړم. اوئي فرمائيل: زه ئي د دې نه هم زر غواړم. بيا حضرت آصف بِن برخيا رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عرض اوکړو:

| | |
|---|---|
| اَنَا اٰتِيۡكَ بِهٖ قَبۡلَ اَنۡ يَّرۡتَدَّ اِلَيۡكَ طَرۡفُكَ ؕ (پاره:19، سورهٔ نمل، آيت:40) | [مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالإيمان : زه به هغه ستاسو بارګاه ته ستاسو د سترګې رپيدو نه مخکښې راوړم. |

واقعی د سترګې په رپ کښې حضرت آصف بِن برخیا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په میلونو لرې په ووه کوټو کښې دننه ایښودے شوے تخت د حضرت سُلیمان عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې حاضِر کړو، هغه وخت حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّیْ ﱡ (پاره:19، سورۂ نمل، آیت:40) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالإیمان : دا زما د ربّ په فضل اُوشو. |

او الله پاک دا انعام ولے ورعطا کړو، دا فضل ئې ولے اوفرمائیلو، د دې حکمت بیانولو کښې حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام اُوفرمائیل:[1]

| | |
|---|---|
| لِیَبْلُوَنِیْۤ ءَاَشْكُرُ اَمْ اَكْفُرُ ؕ (پاره:19، سورۂ نمل، آیت:40) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالإیمان: چې هغه زما ازمیښت اوکړي چې زه شُکر ادا کووم که ناشُکري کووم. |

معلومه شوه چې د نعمتونو په ذریعه، په نعمتونو ورکولو، په خوشحالو ورکولو او په مال و دولت ورکولو هم د انسان ازمیښت کیږي، او په دې کښې ازمیښت څه دے؟ دا کتنه کیږي چې بنده شُکر ګزاره جوړیږي یا ناشُکري کوي، څوك دے چې د نعمتونو په نصیب کیدو باندې په فخر او لوئې کښې اخته کیږي او څوك عاجزي و انکساري کوي، څوك دے چې نعمتونه د خپل طاقت، قُوَّت او محنت نتیجه ګڼړي او څوك دا نعمتونه صرف د **الله** پاك فضل ګڼړي. دا ازمیښت دے...!

## د نِعمتونو زیاتوالے سرکشه کول کوي

عام طور خلق د مصیبت او پریشانئ په ازمیښت باندې ژاړی خو په حقیقت کښې اصل ازمیښت نعمتونه نصیب کیدل دي، ځکه چې د نعمتونو او مال و دولت

[1]...واقعہ کی تفصیل کے لئے دیکھئے: تفسیر صراط الجنان، جلد:7، صفحه:200 تا 205۔

زياتوالے، عِزَّت، شُهرت، مقام و مرتبه، خوشحالي، دا ټول څيزونه عام طور انسان سرکشه جوړوي يا ئې غافله کوي او انسان ورځ په ورځ د حق لارې نه لرې کيږي او بعض ناپوهه خو هغه هم دي کوم چې د نعمتونو د زياتوالي، عِزَّت، مقام و مرتبے او خوشحالئ په وجه په غرور او تکبر کښې داسې اخته کيږي چې د هميشه د پاره ذليل و خوار شي. اوګورئ! ۞ د فرعون ازميښت اوکړے شو، تاج، تخت او حکومت ورکړے شو خو هغه بدبخته سرکشه شو او د خُدائي دعوٰی ئې اوکړه ۞ د نمرود ازميښت هم شوے وو۞ يزيد هم ازمائيلے شوے وو، دغه بدبخته انسانانو د دې نِعمتونو شُکر ادا نکړو او سرکشه شو. مولانا رُوم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي:

نَفْسِ کس را فرِعَوْن نيست | لَيْک اُوْ رَاعَوْن کس را عَوْن نيست

**يعنې**: څوك دے چې د هغه نَفسِ اَمَّاره فرعون نه دے، خو! د مصر فرعون ته بادشاهي او حکومت ورکړے شوي وو، هر يو ته بادشاهي نه ميلاويږي.

مطلب دا دے چې که زمونږ په شان عامو انسانانو ته هم د فرعون په شان تاج و تخت ورکړے شي، حکومت، طاقت، قُوَّت او مال و دولت ورکړے شي نو کيدے شي چې مونږه هم سرکشي اوکړو او د فرعون نه په سرکشئ کښې مخکښې لاړ شو. نن صبا د دې مثالونه عام دي، ۞ بعضو ته چې لږ مال ميلاؤ شي، نو د عام کس سره خبرې کول نه خوښوي ۞ بعضو ته چې ښه نوکري ميلاؤ شي نو زاړه مور و پلار په ډِيکو ډِيکو د کوره اُوباسي، ۞ د غريبو خپلوانو نه سترګې اړوي ۞ که لږ تعليم حاصل کړي نو نور خلق جاهلان ګڼړل شروع کړي ۞ بعضې خلق چې مخکښې پرې ډيره غريبي راغلي وه او د **الله** پاك په بارګاه کښې به ئې په ژړا ژړا دُعاګانې غوښتلې، څنګه چې هغه ته څه مال ميلاو شي، لږه خوشحالي پرې راشي نو د **الله** پاك داسې نافرمانئ کول شروع کړي چې د **الله** پاك پناه!

اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ګويا د داسې خلقو پوهه کولو د پاره فرمائي:

رِزقِ خُدا کھایا کیا، فرمانِ حق ٹالا کیا | شُکرِ کرم، ترسِ سزا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں [1]

**وضاحت**: د **الله** پاك عطا کړے شوے رزق خوړل....! او د **الله** پاك په احکامو عمل نه کول...! اے نفسه...! نه د نِعمتونو شُکر ادا کوې، او نه د قيامت د ورځې د سزا ويره لرې...

## د ړوند، برګي او ګنجي ازمېښت

په بُخاري شريف کښې حديثِ پاك دے: حضرت اَبُوهُريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ راوي دے، خوږ آقا فرمائيلي دي چې په بنــي اسرائيلو کښې درې سړي وو: **(1)** د برګي مريض **(2)** ګنجے او **(3)** ړوند.

قُدرت ته د هغوئي درې وارو امتحان منظور شو، چنانچه **الله** پاك هغه درې وارو ته يوه فرښته راوليږله. هغه فرښته د برګي والا خوا ته ورغله او ورته اوئې وئيل: ستا کوم څيز زيات خوښ دے؟ هغه اووئيل: ښه رنګ، ښکلے بدن او د دې بيمارئ نه خلاصے د کومې په وجه چې خلق ما بد ګڼړي. فرښتے د هغه په بدن لاس راښکلو نو د هغه بيمارې ختمه شوه او هغه ته ښه او ښکلے بدن ورکړے شو. فرښتے ترينه بيا تپوس اوکړو: ستا کوم مال زيات خوښ دے؟ هغه اُووئيل: اوښان مې زيات خوښ دي. هغه ته لس بلاربې اوښانې ورکړے شوے. بيا فرښتے هغه ته په مال کښې د برکت دُعا اوکړه او لاړه.

بيا فرښته د ګنجي خوا ته ورغله، تپوس ئې ترينه اوکړو: ستا کوم څيز زيات خوښ دے؟ هغه اووئيل: ښه ويښته او د دې بيمارئ نه خلاصے د کوم په وجه چې خلق زما

---

[1] ...حدائقِ بخشش، صفحه:111۔

نه نفرت کوي. فرښتے د هغه په سر لاس راښکلو نو د هغه بيماري ختمه شوه او هغه ته ښه ويښته ورکړے شو. بيا فرښتے ترينه تپوس اوکړو: ستا کوم مال زيات خوښ دے؟ هغه اُووئيل: غوا. فرښتے هغه ته يوه بلاربه غوا ورکړه او د برکت دُعا ئې اوکړه او لاړه.

بيا فرښته د ړُوند خوا ته ورغله، تپوس ئې ترينه اوکړو: ستا کوم څيز زيات خوښ دے؟ ړوند اووئيل: چې **الله** پاك ما ته بِينائي راکړي چې زه خلق وِينم. فرښتے پرې لاس راښکلو نو د هغه سترګې روښانه شوے. فرښتے ترينه دويم تپوس اوکړو: ستا کوم مال زيات خوښ دے؟ هغه اُووئيل: چيلئ. هغه ته يوه بلاربه بيزه ورکړے شوه.

بيا هغه دريواړو څاروو بچي راوړل او د هغوئي په مال کښې ښه برکت اوشو، د اوښ والؤ د اوښانو نه يوه دره ډکه شوه، د غوا والا غواګانې او د چيلئ والا چيلئ ښے ډېرې شوے.

بيا فرښته نمبر په نمبر هغوئي له راغله، اوَّل د هغه کس خوا ته راغله کوم چې مخکښې د برګي په بيمارئ کښې اخته وو، هغه ته ئې اُووئيل: زه يو محتاجه انسان يم، مُسافِر يم، زما سره خرچه ختمه شوي ده، تا ته د هغه ربّ واسطه درکووم چا چې تا ته ښه او ښکلے رنګ عطا کړو، ما ته يو اوښ راکړه چې زه پرې خپل منزل ته اُورَسَم. دا ئې چې واوريدل نو هغه د برګي د مرض نه ښه شوي کس اووئيل: زما خرچے زياتې دي (يعني زه تا ته څه نه شم در کولے). فرښتے اووئيل: شايد ته هغه کس ئې کوم چې د برګي مريض وو، بيا **الله** پاك تا ته ښه رنګ، ښکلے بدن او مال و دولت درکړو. په دې باندې هغه کس ناشُکري اوکړه، او اوئې وئيل: نه! نه! دا مال خو زما د پلار نيکه وو، ما ته په ميراث کښې پاتې شوے دے. په دې باندې فرښتے اووئيل: که ته دروغژن ئې نو **الله** پاك دِ تا په خپل مخکښني حال باندې کړي. بيا فرښته د ګنجي خوا ته ورغله، هغه سره هم دغه شان سُوال و جواب اوشو، هغه هم د وړومبي کس په شان جواب

ورکړو. آخر فرښتے هغه ته هم اووئيل: که ته دروغژن ئې نو **اللّٰه** پاك دِ تا په خپل مخکښني حال باندې کړې.

بيا فرښته د دريم کس خوا ته ورغله، چې کوم مخکښې ړوند وو، فرښته هم د هغه خوا ته د نابينا انسان په شکل کښې ورغله او ورته ئې اووئيل: زه محتاجه يم، مُسافِر يم، زما سره خرچه ختمه شوې ده، تا ته د هغه ربّ واسطه درکووم چا چې تا ته ستا سترګې بيرته عطا کړې دي، ما ته يوه چيلۍ راکړه. هغه کس احسان هير نه کړو بلکه اوئې وئيل: آو! واقعې زه اوَّل ړوند ووم، **اللّٰه** پاك زما سترګې روښانه کړې، ته زما د مال نه چې څومره غوارې واخله. نو فرښتے اووئيل: خپل مال ځان سره اوساته! ستاسو دريواړو ازميښت اوشو، **اللّٰه** پاك ستا نه راضي شو او باقي دواړو نه ناراضه دے.[1]

## نعمت والا آزمائش کښې د کاميابۍ طريقه

**حُجَّةُ الاِسلام محمد بن محمد غزالي** رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: **اللّٰه** پاك بنده ته د هغه د خوښې خيزونه عطا کوي او دا خيزونه ډير زيات ورکوي، د دې ټولو خيزونو په ذريعه **اللّٰه** پاك د بنده امتحان اخلي چې هغه څنګه د **اللّٰه** پاك د حکمونو حفاظت کوي؟ **اللّٰه** پاك چې د کومو خيزونو نه منع کړې ده، د هغې نه څنګه بچ کيږي؟ د نِعمَت ميلاويدو په صورت کښې د **اللّٰه** پاك اطاعت و فرمانبرداري څنګه کوي؟ د ګناهونو نه څنګه بچ کيږي؟[2]

معلومه شوه چې کله د نِعمتونو په ذريعه د بنده امتحان اخستے کيږي، نو په امتحان کښې د کاميابۍ صُورت دا دے چې بنده د نِعمتونو په زياتوالي باندې فخر او تَڪَبُّر نه

---

[1] …بخاري، کتاب: احاديثُ الانبيا، باب: حديث ابرص …الخ، صفحه:888، حديث:3464۔

[2] …احياء العلوم مترجم، جلد:3، صفحه:242۔

کوي، ځان ښه نه ګڼړي، سرکشه نه جوړيږي بلکه د **الله** پاك شُکر ادا کړي، د **الله** پاك په احکامو عمل اوکړي، د کومو کارونو نه چې **الله** پاك منع فرمائيلي ده، د هغې نه ځان بچ اوساتي، د ګناهونو نه ځان لرې اوساتي او په نيکو کښې ژوند تير کړي.

**الله** پاك دِ مونږ ټولو ته د کاملې تابعدارئ، د نيکو والا ښه ژوند تيرولو توفيق را عطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (3) د مُصيبتونو په ذريعه د ازميښت بيان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې دُنيا کښې چې مونږه د کومو ازمائشونو نه تيريږو، په هغې کښې دريم صورت: درد، تکليف، غم او پريشاني ده. دا هغه صورت دے کوم ته چې مونږه عام طور ازميښت وايو او ازميښت ئې ګڼړو. د دې ازميښت او امتحان د مختلفو صورتونو بيان په سيپاره 2 سُورةُ البَقَرَة، آيت نمبر 155 کښې **الله** پاك داسې فرمائي:

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَیْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِؕ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَۙ(۱۵۵)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او مونږ به ضرور ستاسو ازميښت کوو د څه ويرې او لوږې او د مالونو او ځانونو او د ميوو د کمي په ذريعه، او زيرے واوروه هغه صبر کوونکو ته.

د دې آيت لاندې په تفسيرِ نعيمي کښې دي: اے مسلمانانو! تاسو بهترين اُمَّت ئې او د لويو امتحان هم لوئ وي، په دې وجه به په ډيرو مضمونو کښې ستاسو امتحان کيږي، کله د دُښمن نه د ويرې، کله د قحط په ذريعه، کله د فقر او لوَږې په ذريعه، کله د مال په کمي، کله د اولاد، مور و پلار، خپلو خپلوانو او دوستانو د وفات په ذريعه، کله

ستاسو په باغونو، فصلونو او ميوو وغيره کښې د کمي په ذريعه، غرض: ستاسو د امتحان دومره پرچے دي، په هره پرچه کښې پوره نمبرې حاصلې کړئ.[1]

## د مُصيبتونو په ازميښت کښې د کاميابۍ طريقه

بيا په دې امتحان کښې د کاميابۍ څه طريقه، د دې بيان هم په دې آيت کښې شوے دے:

وَبَشِّرِ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۵۵﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او زيرے وارووه هغه صبر کوونکو ته.

معلومه شوه: چې کله مُصيبت، پريشاني، تکليف او درد راشي، نو په هغه امتحان کښې به کاميابي څنګه ميلاويږي؟ په شور کولو او ژړا واويلا کولو نه بلکه په صبر کولو او د الله پاك په رضا راضي اوسيدلو باندې به کاميابي نصيب کيږي.

د الله پاك د نبـي حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلام د دور واقعه ده، يو کس په زر درهمه (د سپينو زرو په زرو سِکّو) يوه بلبله واخسته، هغه بلبلې به ښکلې خبرې کولې، يوه ورځ د هغه بلبلې د پنجرے خوا ته طوطي راغلے او څه ئې ورته اووئيل او وَالوتو، بس د هغې نه پس بلبلې خبرې کول پريښودې. بيا هغه کس خپله مسئله د حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلام په خدمت کښې پيش کړه او ټوله خبره ئې عرض کړه. حضرت سُليمان عَلَيْهِ السَّلام د الله پاك نبـي دے او هغوئي عَلَيْهِ السَّلام ته د مرغو د خبرو علم ورکړے شوے وو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلام د بلبلې نه تپوس اوکړو: ته ولے خاموشه ئې، خبرې ولے نه کوے؟ بلبلې عرض اوکړو: جناب! ما به د خپل وطن او خپل اولاد په ياد کښې ژړل او خلقو به زما ژړا سندره ګڼړله، زه طوطي پوهه کړم چې ستا بے صبري ستا د دې قيد سبب ده، که ته

---

1 ...تفسير نعيمی، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زيرِ آيت:155، جلد:2، صفحہ:96 خلاصةً۔

صبر اوکړې او خاموشه شې نو د قید نه به خلاصه شې. بس زه به نورې خبرې نه کووم.

حضرت سُلیمان عَلَيْهِ السَّلَام چې د بلبلې خبره واوریدله نو د هغې مالك ته ئې اوفرمائیل: ته د دې د خبرو نه نور مایوسه شه، دا نورې خبرې نه کوي. هغه کس چې کله دا خبره واوریدله نو اوئې وئیل: بیا ما ته د دې د ساتلو څه ضرورت دے، زه خو د دې د آواز عاشق ووم، دا ئې اووئیل او پنجره ئې بیرته کړه او بلبله ئې آزاده کړه.[1]

چپ رِہ سیں تاں موتی مل سَن، صبر کریں تاں ہیرے | پاگلاں وانگوں رولا پاویں نہ موتی نہ ہیرے

**وضاحت**: که خاموشه اوسیږې نو ملغلرې به حاصلې کړې، او که صبر اوکړې نو قیمتي غمي به درنصیب شي. او که د لیونو په شان شور غوغا جوړه کړې نو که د مصیبت نه خلاصے درنصیب شي او که نه خو ملغلرې او قیمتي غمو نه (یعنې د آخرت د ثواب) نه به محرومه پاتې شې.

## د مُصیبتونو د ازمیښت حکمتونه

اے عاشِقانِ رسول! دا ازمیښتونه ولے راځي؟ د دې حکمتونه څه دي؟ د دې په باره کښې یوه خبره همیشه یاده ساتئ! چې په هره طبقه باندې د دې ازمیښتونو راتللو حکمتونه هُم بدل بدل وي، مثلاً ❁ د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په خدمت کښې چې کوم تکلیفونه او پریشانئ حاضریږي، د هغې حکمتونه جُدا دي ❁ د اولیائے کرامو عَلَيْهِمُ الرَّحْمَه په خدمت کښې چې کوم تکلیفونه او پریشانئ حاضریږي، د هغې حکمتونه جُدا دي ❁ عام مسلمانانو ته چې کوم تکلیفونه او پریشانئ رسي، د هغې حکمتونه جُدا دي ❁ ګنهګارانو ته چې کوم تکلیفونه او پریشانئ پیښیږي د هغې حکمتونه جُدا دي.

---

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:2، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:155، جلد:2، صفحہ:101۔

په حدیثِ پاك کښې دي: خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د ټولو نه سخت ازمیښتونه د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام وي، بیا د هغوئي نه پس درجه په درجه د نورو خلقو، انسان د خپل دِین مطابق ازمائیلے کیږي، ځوک چې په دِین کښې مضبوط وي، د هغه ازمیښت هم سخت وي او ځوك چې په دِین کښې کمزورے وي، د هغه ازمیښت د هغه د دِین مطابق کیږي.[1]

## د انبیاء عَلَیۡہِمُ السَّلَام په بارګاه کښې د راتلونکو ازمیښتونو حکمتونه

علمائے کرام په بارګاهِ انبیاء عَلَیۡہِمُ السَّلَام کښې د حاضریدونکو ازمیښتونو حکمتونه بیانولو کښې فرمائي: انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام ته د عامو خلقو په نِسبَت زیات ثواب میلاویږي، انبیائے کرام عَلَیۡہِمُ السَّلَام کامِل و اکمَل فضائلو والا دي، د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام په خدمت کښې ازمیښتونه حاضریږي چې خلق د انبیائے کرام عَلَیۡہِمُ السَّلَام د صبر او د هغوئي د **اللّٰه** پاك په رضا باندې راضي اوسیدل اُووِیني او د هغوئي پیروي اوکړي، انبیائے کرام عَلَیۡہِمُ السَّلَام د عامو انسانانو په شان نه دي، د هغوئي فضائل اوچت وي، هغوئي ته معجزے عطا کړے شوي دي، لِهٰذا په هغوئي باندې هُم ازمیښتونه رالیږلے کیږي، چې چرته خلق هغوئي خُدائے اونه ګڼړي.[2]

## اولیائے کرامو ته د راتلونکو ازمیښتونو حکمتونه

د اولیائے کرامو په خدمت کښې حاضریدونکو ازمیښتونو کښې څه حکمت دے، د دې په باره کښې علّامه قُرطُبي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: **اللّٰه** پاك د خپلو پاکو بندګانو

---

1 ...جامع صغیر، صفحه:69، حدیث:1054۔

2 ...فیضُ القدیر، جلد:1، صفحه:662، زیرِ حدیث:1054 خُلاصةً۔

ازمينبت كوي چې په فضائلو كښې كامِل شي، د **اللّٰه** پاك په نِزد د هغوئي درجات اوچت شي. حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **اللّٰه** پاك خپل اولياء هميشه په ازمينبتونو كښې ساتي چې د هغوئي زړه هميشه د **اللّٰه** پاك طرف ته مُتَوَجِّه وي، كله هم هغوئي غافله نه شي او د دې وجه دا ده چې **اللّٰه** پاك هغوئي سره **محبت** كوي او هغوئي د **اللّٰه** پاك سره **محبت** كوي.[1]

## د يو عبادت ګزار ازمينبت

د حضرت **وَهْب** بِن مُنَبَّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے: دوه عبادت ګزارو د تُوْبُوْا اِلَى اللهِ! رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه كالو پورې د **اللّٰه** پاك عبادت كولو، د پنځوسم كال په آخره كښې يو عبادت ګزار په خطرناكه بيمارئ كښې مُبتلا شو، هغه عبادت ګزار په ژړا كښې د **اللّٰه** پاك په بارګاه كښې التجاء اوكړه: اے زما خُدايا! ما دومره كاله مسلسل ستا حكم اُومنلو، ستا عبادت مې اوكړو، بيا دِ زه په دومره خطرناكه بيمارئ كښې اخته كړم، په دې كښې څه حكمت دے؟

**اللّٰه** پاك فرښتو ته حكم اوكړو: هغه ته اووايه! تا چې كوم عبادت و رياضت كړے دے، هغه زمونږ د عطا كړې توفيق په وجه دے، هغه زمونږ د احسان نتيجه ده، پاتې شوه بيمارې نو په دې كښې ته ځكه اخته كړے شوې چې ته د نيكو خلقو مرتبے ته اُورسولے شې.[2]

---

1 …فيض القدير، جلد:1، صفحه:663، زيرِ حديث:1055 خلاصةً۔

2 …عيون الحكايات، صفحه:196۔

## ډېر ازميښتونه د ګناهونو په وجه هُم راځي

په سيپاره ۲۱، سورۂ رُوم، آيت: ۴۱ کښې الله پاك ارشاد فرمائي:

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَ الْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَیْدِی النَّاسِ لِیُذِیْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِیْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ یَرْجِعُوْنَ ﴿۴۱﴾

مفهوم ترجمه: په وچه او لـمده کښې فساد ښکاره شو د هغه بدو په وجه کومې چې د خلقو لاسو ګټلې دي د پاره د دې چې الله پاك هغوئي ته د هغوئي د بعضو کارونو خوند ور وَڅَکي، چې هغوئي قلار شي.

په دې آيتِ کريمه کښې اوښودل شو چې قحط سالي، باران نه کيدل، د فصل کمے، د تجارت نُقصان، بے برکتي، قِسما قِسم بيمارئ، سمندري طوفان او مختلف ازميښتونه د ګناهونو په وجه راځي، د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بيشکه بنده د ګناه په وجه د رزق نه محرومه کړے شي.[1]

## د ګناهونو په وجه د راتلونکو ازميښتونو دوه حکمتونه

اے عاشِقانِ رسول! د دې آيتِ کريمه په آخر کښې د ګناهونو په وجه راتلونکو ازميښتونو دوه حکمتونه بيان شوي دي:

**(1)** ارشاد شوے دے:

لِیُذِیْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِیْ عَمِلُوْا (پاره:21، سورۂ رُوم:41)

مفهوم ترجمه: د پاره د دې چې الله پاك هغوئي ته د هغوئي د بعضو کارونو خوند ور وَڅَکي.

---

[1] …سنن ابن ماجه، کتاب: الفتن، صفحه:649، حديث:4022۔

يعنې تکليفونه، پريشانئ، مصيبتونه، تنګدستي، بےروزګاري ولے راځي؟ د ګناهونو د سزا په طور. چې کله هم څه مُصيبت يا پريشاني راشي نو غور کول پکار دي چې زمونږ نه کومه ګناه شوي ده چې د هغې د سزا په طور دا پريشانئ راغلې دي، ډېر خلق وائي: مولانا صاحب! ډېر اَوراد او وظائِف مې اوکړل، په سجدو کښې مې هُم اوژړل، ډېرې اوکړدے دُعاګانې مې هُم اوکړې خو پريشاني مې نه حل کيږي. **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوَّل خو مونږ له خپل ځان نيك ګنړل نه دي پکار او دا هم ياد ساتئ چې زمونږ نه خبره هيريږي، خو **اللّٰه** پاك د هيرولو نه پاك دے او **اللّٰه** پاك ډېر مهربانه دے، **اللّٰه** پاك ډېر ځله مونږ ته مهلت راکوي، آخر چې کله مونږه توبه نه کوو نو ازميښت راشي، نو ځکه چې کله پريشاني راشي نو د ګيلو او ژړا فرياد کولو په ځائے خپل تير شوي وخت باندې نظر اچول پکار دي! چرته داسې خو نه ده چې ډيره موده مخکښې زمونږ نه څه ګناه شوي وي او د هغې سزا اوس راکولے کيږي.

## ديرش کاله پس ورته د بدنظرئ سزا ميلاؤ شوه

د مُلكِ شام اوسيدونکے يو بُزُرګ رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: يو ځل په يو اَمرَد (يعنې ښکلي هلك) باندې زما نظر پريوتلو، ما هغه ته مسلسل کتل، په دې کښې حضرت اِبنِ جلاء دِمشقي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه تشريف راوړو، هغوئي زما لاس اونيولو، ما له د هغوئي نه حيا راغله، هغوئي زما لاس زور کړو او اوئې فرمائيل: تا ته به څه موده پس د دې ګناه سزا ملاويږي. هغه شامي بُزُرګ رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: ما ته 30 کاله پس د هغه ګناه سزا ميلاؤ شوه.

**(2)** د سيپاره 21، سورۂ رُوم، آيت نمبر 41 مونږ اوريدلے وو، په هغې کښې د ازميښت دويم حکمت دا بيان شوے دے:

لَعَلَّهُمۡ یَرۡجِعُوۡنَ ﴿۴۱﴾ | مفهوم‌ترجمه: د پاره د دې چې هغوئي قلار شي.

يعنې دا مُصيبتونه، پريشانئ د غفلت نه بيدارولو د پاره راځي، د دې پاره راځي چې خلق رجوع اوکړي، توبه اوکړي، د **الله** پاك نيك او فرمانبردار بندګان جوړ شي. معلومه شوه چې څه تکليف، پريشاني او مصيبت راشي نو توبه کول پکار دي، **الله** پاك طرف ته رُجُوع کول پکار دي، ګناهونه پريښودل پکار دي خو افسوس! په بعضې خلقو چې مصيبتونه، پريشانئ راشي يا يو خپل کس ئې وفات شي، تنګدستي پرې راشي، روزګار ئې بند شي نو نوره ګناهونو ته مخه کړي، مَعَاذَ الله! په **الله** پاك باندې اعتراض کوي، ګِيلې قِيصے کوي، لمُونځونو پرېږدي، غور اوکړئ! په مُعاشره کښې څومره داسې خلق دے❁ د چا چې يو خپل کس وفات شي نو هغوئي د غُسل، کفن، دفن او جنازے په مشغولتيا کښې لمُونځونه قضا کوي ❁ شور او غوغا کوي، ژاړي ❁ که غريبي پرې راشي نو يو بل ته فريادونه کوي، مَعَاذَ الله! د خلقو په مخکښې د **الله** پاك نه ګِيلې کوي.

آه! مُصيبتونه او پريشانئ خو د غفلت نه رابيدارولو د پاره راځي خو مونږه نور په غفلت کښې اخته کيږو، داسې خلق هم په مُعاشره کښې موجود دي، د چا چې کاروبار بند شي، تنګ دستي پرې راشي نو د جمات اِمام صاحب ته وائي: مولانا صاحب! کاروبار مې بند شوے دے، څه وظيفه راته اوښائې! چې کله ورته اِمام صاحب اُووائي چې دا وظيفه به د سحر د لمَانځه نه پس لولې نو په ډيره بےشرمئ سره وائي: مولانا صاحب! د سحر لمُونځ خو نه شو ادا کولے څه بله يوه وظيفه راته اوښائې. الامان والحفيظ! که مصيبت راغلے دے يا پريشاني راغلي ده، دا پريشاني خو د غفلت نه بيدارولو د پاره راغلي ده، دا پريشاني خو نيکو طرف ته بوتللو د پاره راغلي ده، دا پريشاني خو د دې د پاره راغلي ده چې توبه اوکړئ، د مرګ نه مخکښې ګناهونه

پريږدئ، د **اللّٰه** پاك سره خپل تَعَلُّق قائم كړئ، آيا اوس هم د سحر لمُونځ نه شئ ادا كولے، آيا اوس هم سندرې او سازونه اورئ، آيا اوس هم په فضول كارونو كښې مشغولتيا جاري ده، **اللّٰه** پاك په قرآنِ كريم كښې فرمائي:

فَلَوْلَاۤ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ (پارہ:7، سورۂ اَنْعام:43)

مفهوم ترجمه كنز العرفان: نو ولے داسې اونشو چې كله په هغوئي باندې عذاب راغے نو په ژړا ئې زارې كړې وے ليكن د هغوئي خو زړونه سخت شوي وو.

يعنې مونږه هغوئي په قحط، لوږه، بيمارو وغيره كښې اخته كړل چې هغوئي د دې مصيبتونو په وجه زمونږ در ته راشي، زمونږ په بارګاه كښې ژاړې فرياد اوكړي، زمونږ د رَسُولانو پيروي اوكړي، نو دغه خلقو زمونږ په در باندې ولے ژړا فرياد اونكړو؟ آيا هغوئي ته زمونږ د رحمت ضرورت نشته؟ آيا مونږه خپله دروازه په هغوئي بنده كړې ده؟ آيا د هغوئي څه مال خرچ كيږي چې زمونږ در ته راشي؟ نه! نه! د هغوئي د پاره در نه دے بند شوے، بيا هم هغوئي داسې اونكړل، نه زمونږ د رسولانو فرمانبردار جوړ شُو، نه د دې مصيبتونو په وجه د هغوئي سترګې اُوغړيدلې، ولے؟ په دې وجه چې د هغوئي زړونه سخت شوي دي.[1]

## د بيان خُلاصه

اے عاشِقانِ رسول! دا دي ازمائشونه. . . څو قِسمه دي؟ درې قسمه دي: (1) شرعي احكام (2) مختلف نعمتونه (3) مشكلات، مُصيبت او پريشانئ.

[1] ...تفسیر نعیمی، پارہ:7، سورۂ انعام، زیرِ آیت:43۔

د شرعي احکامو په ازمېښت کښې د کاميابۍ دا طريقه ده چې مونږه پوره ژوند په شريعت باندې عمل اوکړو.

د خوشحالو او نِعمتونو په ذريعه چې کوم ازمائشونه وي په هغې کښې د کاميابۍ طريقه دا ده چې مونږه د **اللّٰه** پاك شُکر ادا کړو.

او د مصيبت، پريشانو وغيره په صُورت کښې چې کوم ازمېښت کيږي، په هغې کښې د کاميابۍ طريقه دا ده چې مونږه توبه اوکړو، ګناهونه پريږدو، نيکو ته مخ کړو او صبر اوکړو.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق را کړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافِله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د علمِ دين زده کولو، د نيکو جذبه حاصلولو، ګناهونو نه بچ کيدلو او ښه او باکرداره مسلمان جوړيدلو د پاره د عاشقانِ رَسُول ديني تحريك دعوتِ اسلامی ديني ماحول سره وابسته اوسئ او 12 ديني کارونو کښې د زړه په اخلاص سره حصه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د دې په برکت به تاسو ته د دين و دُنيا ډيره فائده درنصيب شي.

د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مَدَني قافِله** ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقانِ رسول سره په مَدَني قافلو کښې سفر کوئ، د دې په برکت به مو اِنْ شَآءَاللّٰه مصيبتونه او پريشانۍ ختمې شي، د ګناهونو د عادتونو ختميدو ډير مدني سپرلي اوريدل کيږي، راځئ چې يو مدني سپرلے واورو:

# 19 کاله زوړ مرض

د کراچۍ د يو اسلامي ورور بيان دے: وائي چې زه تقريباً د 19 کالو نه د ساه لنډي [يعني دَمے] په مرض کښې اخته ووم. بعضې وخت به د مرض د سختۍ په وجه ما ته ډير تکليف کيدو. زما خوش قِسمتي وه چه يو ځل راته د دعوتِ اسلامي عاشقانِ رسول سره د درې ورځو **مدني قافله** کښې د سفر سعادت نصيب شو. د **مدني قافِلے** په برکت زما شپے او ورځې د **الله** پاك په عبادت کښې تيريدلې او د علمِ دين حاصلولو موقع راته حاصله وه. هلته ما ته نور برکات هم نصيب شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه په دغه درې ورځو کښې ما ته د ډاکټر خوا ته تللو ضرورت هُم پيښ نه شو بلکه په **مدني قافله** کښې راته داسې اطمينان او سکون نصيب شو چه **مخکښې** راته کله هم نه وو نصيب شوے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د مدني قافِلے په برکت زما د 19 کالو زوړ مرض کښې ښکاره کمے راغلے. (مفلوج کی شفایابی کا راز، صفحہ: **12**)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيل: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. (1)

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے (2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰی |

1...جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحه: 201، حديث: 220۔

2...وسائل بخشش، صفحه: 118۔

# د ناستې سُنتونه او آداب

د آخري نبـي، رَسُولِ هاشَمِـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: كوم خلق چې د ډير وخته پورې كوم ځائے كښې كښيناستل او د **الله** د ذِكر او نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُودشريف لوستلو نه بغير پاڅيدل، هغوئي نُقصان اوكړو، كه **الله** پاك اوغواړي عذاب به وركړي او كه اوغواړي نو اوبخښي به ئې.[1]

**د ناستې سُنتونه:** ❁حضرت اِبنِ عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: ما خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د كعبے شريفې په انګڼ كښې د اِحتِباء په صورت كښې ناست اوليدلو. (د اِحتباء مطلب دا دے چې انسان سُرين په زمكه اولګوي او د دواړو زنګونانو نه دواړه لاسونه را چاپيره كړي، داسې قِسمه كښيناستل په عاجزئ كښې شميرلے كيږي)

❁ حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې كله د سحر لمُونځ ادا كړو نو پرلت وهلے به تشريف فرما وو، تر دې چې لمَر به ښه را اوختلو. ❁خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به كله هم په مجلس كښې داسې نه كښيناستلو چې چا طرف ته به ئې ښپې مباركې غزولې وې، نه اولاد طرف ته، نه ازواجِ مُطَهَّرات طرف ته او نه د غلامانو طرف ته. ❁مبلِّغ او مُدَرِّس له د بيان او تدريس په وخت كښې سُنَّت دا دي چې قبلے طرف ته شا كړي چې د علم خبرې اوريدونكو خلقو مخ قبلے طرف ته شي.

**د ناستې آداب:** ❁د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښيناستل افضل دي، ❁حضرت اِبنِ عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما به اكثر مخ په قبله كښيناستلو. ❁**اعلٰى حضرت** اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د پير او اُستاذ په **نِشَست** [يعني د ناستې په ځائے] دِ د هغوئي په غير

---

[1] …مستدرک، جلد:2، صفحه:168، حديث:1869۔

موجودګئ ګښ هُم نه کښيني. ۞چه کله اجتماع يا مجلس ته لاړ شئ نو مخکښې تللو د پاره **په خلقو د پاسه مه اوړئ** چه چرته ځائے وي هلته کښينئ.۞ **چې کله کښينئ نو پيزار اُوباسئ** ستاسو ښپې به آرام مومي.۞ چې کله کښينئ نو چې د پردے د ځايونو [هَيئَت] نه ښکاري. لِهٰذا په زنګونانو باندې د ښپو پورې څادر اچوئ. که د سُنَّت مطابق د پنډئ د نيمې پورې لمَن وي نو په هغې کښې هم په پرده کښې پرده کيدے شي.

د سُنَّتنو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب "550 سُنَّتیں اور آداب" واخلئ او اولولئ ئې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې

کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې په

1…افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2…القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

3…افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حيران شو چې دا ځوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: ځوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵